# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# د پولوس

# حېرانوونکے

# سفر

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

پولوس او سیلاس، د عیسیٰ مسیح
خادمان په قید کښې وو. هغوئ
هیڅ غلطی نهٔ وه کړې. هغوئ
د ښځې نه پېریان ویستلی وو.
هغوئ بت پرستو خلقو ته د
رښتینی خدائ او د هغهٔ د زوئ
عیسیٰ مسیح قدرت ښودلو چې په
فیلیپی کښې
اوسېدل. ځکه
هغوئ ګرفتار
کړے شول، ووهلے
شول او بند کړے شول.



تاسو به سوچ کوئ
چې پولوس او سیلاس به
خفه او ډېر غصه وو. خو
داسې نۀ وه. په حقیقت
کښې، د شپې په وخت،
هغوئ د خدائ حمد
و ثنا د پاره کښېناستل.
نورو ټولو قېدیانو او
څوکېدار دا واورېدل.



ناڅاپه حمد و ثنا بند شو. خدائ د قید خانې خوزولو د پاره زلزله راوسټله. ټولې دروازې کولاؤ شی او ټولو زنځیزونه پرانستلے شی.





هایٔ، هایٔ! د ځوکېدار دا یقین
وو چې ټول قیدیان به په هله ګله
کښې تښتېدلی وی. کۀ یو هم
وتښتی نو ځوکېدار ته به د
مرګ سزا ورکړے شی. په
خفګان سره، هغه ځوکېدار
خپله توره راواخلی.
هغه کوشش کولو چې
خپل ځان ووژنی.

خو پولوس آواز ورکړی، خپل
ځان له نقصان مهٔ ورکوه، ځکه
چې مونږ ټول دلته یو. چې کله
 څوکېدار وکتل، نو هغه ووائی،
اے صاحبانو، زهٔ څهٔ وکړم
چې خلاصون ومومم؟ نو هغوئ
ورته ووئیل، په مالک عیسیٰ
مسیح ایمان راوړه نو تهٔ او ستا
کورنئ به خلاصون ومومی.
څوکېدار په خوشحالئ سره
داسې وکړی.





بله ورځ، چې کله
آزاد شی، نو پولوس
او سیلاس نورو ډېرو
ښارونو ته لاړ شی.
خلقو ته د عیسیٰ
مسیح په حقله وائی.



څهٔ خلق ایمان راوړی، او
ځینې ورته د نقصان رسولو
کوشش وکړی. خو خدایٔ د
خپلو خادمانو مل وی. یوه
شپه، پولوس په ګنټو ګنټو
کلام اورولو. یوې کولاؤ
کړکئ سره خواته یو هلک
اودهٔ شی. نو سوچ وکړئ
چې څهٔ به شوی وی.



هر چا ته پته وه چې ځوان هلک
مړ شوے دے. خو پولوس لاندې
لاړ شی او دې وئیلو سره ئې را
اوچت کړی، په دهٔ کښې ساه
شته. هغه ځوان ځان سره
ژوندے بره راولی او
هغوئ ډېر خوشحاله شی.

پولوس او سیلاس ډېرو خطرو ته مخامخ وو، چې کله ئې په یورپ کښې سفر کولو. پولوس په یوه لویه خطره کښې راګېر شی چې کله د اوبو په جهاز کښې وی. هغه د اسټیل په لویه بیړئ کښې نهٔ وو، بلکه په یوه عامه کشتئ کښې وو چې په طوفان کښې ډېرې په آسانئ اوړېدلے شوې.






کښې وو، ځکه چې هغه دوباره ګرفتار کړے شوے
وو. اوس ئې د روم د بادشاه په وړاندې پېش کولو. چې د
دنیا دار الخلافه وه. تیزو هواګانو سره جهاز په قلاره شی.
داسې ښکارېدل چې طوفان راتلو واله وو. دا د پولوس او
نورو قیدیانو او ماڼکیانو د پاره یو خطرناک سفر وو.

پولوس خبردارے ورکړی، اے صاحبانو! ما ته پته ده چې په دې سفر کښې به ډېر تکلیف او نقصان وی. مشر دې له هیڅ توجو ور نۀ کړی. هغوئ په سمندر کښې سفر شروع کړی. چې کله یو لوئ طوفان راشی، نو هغوئ د جهاز نه چاپېره پړی وتړی، دې د پاره چې جهاز مات نۀ شی. کۀ جهاز مات



شی نو دا اوبۀ به د ټولو د پاره یو لوئ قبر جوړ شی.

جهاز په دومره چپو کښې وی چې مشر ټولو ته ووائی چې
د جهاز سپکولو د پاره د هغهٔ مدد وکړی. په دربمه ورځ،
هغوئ د جهاز پړی اوبو ته وغورزوی
چې کېدے شی دې سره ورته
فائده ملاو شی.



د شپې په وخت، یوه فرښته پولوس له راشی او ورته ووائی، چې هر څۀ به ټیک شی. نورو خلقو ته حوصله ملاو شی چې کله پولوس ووائی، اے صاحبانو! یرېږئ مه ځکه چې زۀ په خدائ یقین ساتم چې څنګه ما ته وئیلے شوی دی نو هم هغسې به کیږی. خو یقیناً چې مونږ به یو جزیرې ته لاړ شو.



یو څو ورځې پس، جهاز د مالټې جزیرې سره نزدې
مات شی. هغه کپتانو سره وجنګیږی او ټکړې ټکړې شی.
مشر هغوئ له حکم ورکړی چې چا له لامبو
ورځی نو اول دې هغوئ اوچې ته ځان
وباسی. نور دې هم، ځنې په تختو او د
جهاز په ماتو شوو ټکړو بچ شول.



په مالټا کښې، خدائ خپل قدرت ښکاره کړی. کله چې هغوئ د اور بلولو د پاره لرګی رامات کړی، نو يو مار پولوس وچيچی. خو د مار ټک پولوس ته هيڅ نقصان ونهٔ رسوی. بيا خلق پوهه شی چې پولوس څوک معبود دے.
ډېر بيماران راشی او چې کله پولوس ورته دعا وکړی نو خدائ ورله شفا ورکړی.



آخر، پولوس روم ته ورسی. د هغهٔ په فېصله کښې دوه کاله
ولګېدل. په دې دوران کښې پولوس د کرایه یو کور واخستلو
او خلق به هغهٔ سره ملاوېدو له راتلل. تاسو ته معلومه ده چې
پولوس به هغه راتلونکو خلقو
ته څهٔ وئیل؟ هغهٔ به ورته د
خدائ د بادشاهئ او عیسیٰ
مسیح په حقله وئیل! پولوس
په روم کښې د خدائ
خادم وو، لکه خنګه
چې هغه په خپلو
نورو مسافرو
کښې وو.



ما ښهٔ جنګ وکړو، ما خپله منډه پوره کړه، زهٔ په خپل ایمان قایم پاتې شوم. پولوس روم ته داسې ولیکی. په کتاب مقدس کښې دا نهٔ دی وئیلے شوی چې د هغهٔ د ژوند خاتمه څنګه وشی، خو د نورو حوالو نه دا معلومیږی چې د بادشاه نیرو په حکم سره د پولوس



سر قلم کړے شی. پولوس ته هم هغه شان شهادت حاصل کړو څنګه ئې چې په غیرت سره ژوند تېر کړو، یعنی د خدائ د وفادار خادم په طور، او خلقو ته ئې د عیسیٰ مسیح په حقله پیغام ورسولو.

# د پولوس حېرانوونکے سفر

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصیٔ

شته دے

اعمال ۱۶، ۲۷، ۲۸

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲